مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۹/۰۲

غزل

ځوک په شملو او ځوک په لنګ پسې ځي
ځینې د امن پر ځـای جنګ پسې ځي
پیغلې ځوانان مـو راویښ شوي دي اوس
کلـه د بــل د ډول پـه ډنـګ پسې ځي
نـوم د ابـدال او مـیـرویـس خان یادوي
د ایـوب خان د تـورې شرنګ پسې ځي
دلـتـه سـودا شـي پـه پــړوني د مـور
ځینـې بـې پـلاره د پیـرنګ پسې ځي
ځوک چې پښتو او پښتونخوا نه غـواړي
داسې بـې ننګـه د بـې ننګ پسې ځي
یـه پسرلـیه! ستا لـه خـیـاله زار شم
چې نـه پیـرنګ نـه پـه اورنګ پسې ځي

پای

یادونه: که چیری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com